محمد هارون خپل شعشعي


۰۷ نومبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۷

**۱۳۴- کامل شيخ، کامل پير، کامل انسان، نمونه انسان ياکامل التمام :**

د شيخ عربي کليمه په لغت کې د زاړه، سپين ږيري، پوه، عالِم، بناغلي، پتمن، مشر، قام او ټبر د مشر په ماناوو راغلي ده، چي ډېرو تي (ته يي) شيوخ، اشياخ او شېخه وايي؛ او مشايخ يي د جمع الجمعي حالت دئ . د پير ټکی، لکه څنګه چي له نامه يي ښکاري، له لغوي پلوه زاړه ( د ځوان ضد)، سپين ږيري او مشر ته وايي . په تصوفي او عرفاني نړۍ کې پر شيخ او پير سربېره « د طريقت پير »، « د خرابات پير » ، « د دير پير »، « د مُغان پير »، « د ميخاني پير »، « د ميکدې پير »، « کامل پير » ، « کامل شيخ » ، « کامل انسان » ، « نمونه انسان » ، « کامل التمام » او داسي نور اصطلاحات هم خورا باب دي، چي د ټولو مقصد په حقيقت کې عرفاني مُرشد، د طريقت پير، روحاني لارښود يا مانوي ( معنوي) مشر دئ ۱ . د شيخ اصطلاح په عرفاني آثارو او بحثو کې د هغه چا په مفهوم استعماليږي، چي د شريعت، طريقت او حقيقت په علومو کې د بشپړتوب يا کمال درجي ته رسېدلئ يي( وي) ۲ .

کامل پير يا کامل شيخ، د عرفاني طريقت نه بېلېدونکی او محوري عنصر دئ . د کامل د صفتو او ځانګړتياوو په اړه عرفاني نظريې له ځينو قرآني آيتو او اسلامي منابعو الهام اخلي . د بقري دسوري دېرشم ( ۲: ۳۰) آيت ( و اذ قال ربک للملايکة انی جاعل فی الارض خليفة۳)، د بقري د سوري يو دېرشم ( ۲: ۳۱ ) آيت ( وعلم آدم الاسماء کلها۴)، د بقري دسوري درو دېرشم ( ۲: ۳۳) آيت ( واذ قلنا للملايکة اسجدوا لآدم فسجدو الآ ابليس۵)، د اِسرأ ( بني اسراييل) د سوري اوياېم ( ۱۷: ۷۰) آيت ( ولقد کرمنا بنی آدم وحملناهم فی البر والبحر۶ .

. .) او داسي نور له هغو قرآني نصوصو څخه دي، چي د کايناتو په ټولو مخلوقاتو کي د انسان د بنه والي او پر مځکه د پروردګار د خليفه په توګه د انسان د غوره کولو واقعيت ته ګوته نيسي .

عارفان، د کامل انسان په باب دخيلو دلايلوپه لړ کي د لولاک مسألي ته اشاره کيي؛ او د اسلام ستر پيغمبر- حضرت محمد ( ص) د« مطلق مُراد » ، « مطلق محبوب » ، « فخر العالمين »، « رحمت العالمين » او داسي نورو په نومو ياديي . همدغه راز، د حضرت محمد ( ص) په يوه مبارک حديث کي دا عرفاني نظريه چي د الله سبحانه و تعالی هستي په کايناتو کي نه ځاييږي؛ خو د مؤمن په زړه کي ځاييږي، هغه بل انکار نه منوونکی دليل دئ، چي د انسان د لوی والي او کمال مسألي ته اشاره کيي .

عرفاني مخکښان د همدې قرآني لاربښوونو او نبوي حديث پر بنسټ استدلال کيي( کوي)، چي د انسان وجود، په خپله لوی يا اکبر عالَم دئ . هر هغه څه چي په کايناتو کي ليدل کيږي، ټول د انسان په وجود کي نغښتي دي؛ خو هر هغه څه چي د انسان په وجود کي اينوول سوي دي، په ټولو کايناتو کي نه ليدل کيږي . همدا صفت د ده جامعيت او بشپړتيا ده . انسان پر مځکه د حق تعالی خليفه دئ . د ده وجود د الهي نومو او صفاتو کامل مظهر او روښانه هينداره ده[7] .

دلته د ځينو عرفاني لويانو په نظريو کي دکامل شيخ يا کامل پير عرفاني اصطلاح او د هغه صفتو ته يوه ځغلنده کتنه کوو. لوړ عرفاني لاربښود - شيخ فريدالدين عطار نيشابوري ( ۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق) په خپله « مصيبت نامه » کي د پير د مقام داسي ستايي :

پير ره کبريت احمر آمـده
غايبی پيوسته حاضر آمده
هرکه او کحلی نسازد خاک پير
خواه پاک و خواه ناپـاک مير

بل ځای په يوه ښکلي بيان کي د جهان ساتنه د پير له برکته بولي :

« زانکه گر پيری نماند در جهان
کی تواند گشت بی قطب آسمان » ۸

د اسلامي تصوف او عرفان بل نامتو لاربښود - شيخ نجم الدين رازي ( په ۶۴۵هـ ق کي مړ) د کامل يا واصل شيخ د ارکانو او شرطو په باب، دغو ټکو ته پام اړول ضروري ګڼي :

« ۱- عبديت : تر هغه مهاله، چي سالک له ماسوای الله څخه ازاد نسي، د الله تعالی عبديت ته نه رسيږي .

۲- د حقيقتو د منلومقام : دا مقام تر هغه وخته نه تر لاسه کيږي، چي شيخ له انساني او روحاني خويو او صفتو څخه ونه وزي . په بله وينا، شيخ بايد د حقيقت موندني داسي پړاو ته ورسيږي، چي حقايق يې مخامخ پر زړه تجلا وکي .

۳- د تخلقوا باخلاق الله مقام ته رسيدل : کامل شيخ بايد د ربوبيت له مقامه په خاص رحمت و نازول سي .

۴- له حق تعالی څخه يې د علومو زده کړه، مُستقيمه او بې واسطه يې . دې مقام ته رسيدل هغه وخت ممکن دي، چي د کامل د زړه هينداره له عقلي، سمعي، حسي او نورو علومو څخه ښخي پاکه يې .

۵- د لدني علم په بې واسطي زده کړه کي تر خپلي هستی تېرسي؛ او ځان د حق هستی ته ورسيي[9]. »

شېخ رازي، د کامل یا واصل شېخ په باره کي تر مخکنیيو پينځو ارکانو وروسته، ددغو شلو صفتونومونه اخلي، چي ځيني يې د مفهوم له پلوه يو شان يا ډېر سره نيژدې دي :

« علم، اعتقاد، عقل، سخا، شجاعت، عفت، مړانه، شفقت، زغم، بخښنه، نېک خوی، سربښندنه، کرم، رضا، توکل، تسليم، قضا ته غاړه اېښوول، سکونت، ثبات، هيبت ١٠ . »

دتصوف او عرفان ځينو نورو مخکښانو او نظريه پردازانو د کامل يا نمونه انسان د پېژندګلوی دپاره د دغو خويو او ځانګړتياوو يادونه کړې ده : « تفکر، بصيرت، ځان پېژندنه ، وخت پېژندنه، د زغم او صبر صفتونه ( روحي غنا، روحي انډول، د تشخيص يا پېژندني واک)، خپلواکي، ولس پالنه يا د ټولنيز مسووليت احساس، سربښندنه، له مظلومانو سره د انصاف په برابرولو او له محبسو څخه د مظلومو بنديانو په ايله کولو کي مرسته، د بې وزلو په وړاندي عاجزي او د ځواکمنو په وړاندي سرکښي، له اتکل او مخکني قضاوت څخه ډډه، مينه او ارمان، اصالت او نوښت، په خپلو کوښښوکي پياوړتيا او پر مخ تګ ١١ .

د اسلامي عرفان تلپاته او روښانه ستوری - مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ٦٠٤- ٦٧٢هـ ق) د خپل ستر عرفاني شهکار « مثنوی معنوی » په څو بيتو کي د شېخ تصوفي او عرفاني مانا داسي بيان کړې ده :

« شيخ که بود، پــير يعنی مو سپيد
معنی ايــن مو بدان ای بــی اُميد
هست ايــن مو سپيد هستی او
تا ز هستيش نمـاند تاری مـو
چون که هستی اش نماند پيــر اوست
گر سيه مو باشد او يا خود، دو موست ١٢»

لکه څنګه، چي د مولانا جلال الدين بلخي په لوړ عارفانه او حکيمانه بيان کي راغلي دي، شېخ هغه لوړ عرفاني شخصيت دئ، چي د عرفاني سير او سلوک ټول مقامونه او پړاوونه يې په برياليتوب سره تېر کړي يې؛ زړه يې د الهي انوارو په نور روښانه؛ د حقايقو ټولي لاري يې د زړه په پښو وهلي يې؛ اوځان يې د هستی له ناپايه بحر سره يو ځای کړئ يې . ښرګنده ده، چي عرفاني سالک يوازي په خپله ناپايه او سپېڅلي مينه داسي مقام ته د رسيدو وس مومي . له دې امله ځواني يا زړښت، د وېښتو توروالی يا سپين والی، دلته ځانګړی شرط نه ګڼل کيږي .

د وتلي عرفاني مفکر - شېخ عزيزالدين بن محمدالنسفي (٦٣٠ - ٧٠٠ هـ ق) په عقيده، کامل هغه څوک دئ، چي د شريعت، طريقت او حقيقت علوم يې بشپړ کړي يې . په بله ژبه، کامل هغه څوک دئ، چي په هغه کي دغه څلور صفتونه تر کماله رسېدلي يې :

١- نېکي وېناوي
٢- نېک عملونه
٣- نېک اخلاق
٤- نېک معارف [ د دونيا معرفت، د آخرت معرفت، د ځان معرفت او د خدای معرفت ].

دشېخ نسفي په اند، کامل انسان د شېخ، پيشوا، هادي، مهدي، دانا، بالغ، کامل، مکمل، امام، خليفه، قطب، صاحب زمان، جام جهان نُما، لوی ترياک، لوي اکسير، عيسا، خضر او سليمان په نومو هم ياديږي١٣ . »

شېخ نسفي، په خپل عرفاني شهکار « انسان الکامل » کي د کامل د ځانګړتياوو اوصفتو په اړه زياتيي : «

کامل انسان ټل په کايناتوکي يو يي . کامل د کايناتو زړه دئ . کله چي، کامل له دونيا څخه ولاړ سي، بل څوک يې ځای نيسي . کامل انسان په هر څه پوه او خبر يي . هيڅ شی د ملکوت او جبروت په عالموکي له هغه پټ نه يي[۱۴] . » شيخ نسفي، وروسته په همدې ارزښتناک اثر کي د کامل انسان د رسالت په اړه داسي کاږي : « کامل بايد په خلګو کي ریښتيا پيدا کړي؛ ناوړه دودونه له منځه يوسي؛ نېک قانون او نېکه لار باب کي؛ خلګ د خدای لوري ته ور وبولي؛ انسانانو ته د هغوی لوی والی ور وښيي؛ د آخرت د ثبات او د دونيا د فنا کېدو په باره کي خبري وکي؛ نېکانو ته د جنت او بدانو ته د دوږخ زېری ورسيي[۱۵] . » د شيخ نسفي د عرفاني ډکتورينو له مخي، « کامل پير » يا « کامل انسان » د سير او سلوک تر ټولولوړ مقام دئ، چي سالک د خپل عرفاني سفر په وروستي منزل کي ور رسيږي .

د اسلامي تصوف او عرفان بل پېژندل سوي شخصيت - لسان الغيب خواجه شمس الدين محمد حافظ شيرازي ( په ۷۹۱ هـ ق کي مړ) هم د پيرمغان، پير خرابات او داسي نورو نومو په يادولو سره د کامل پير يا کامل انسان د پېژندني او ځانګړتياوو په باب خورا په زړه پوري خبري لري . په دغو بيتو کي د هغه کامل پير د غلامی ناري وهي، چي درګاه يي د مهرباني، پېرزويني او ژغورني د درشل دئ :

« بندهٔ پيــر خراباتم که لطفش دايم است
ورنه لطف شيخ و زاهد گاه هست و گاه نيست

***

از آستان پير مغـان سر چرا کشم
دولت درين سرا وگشايش دريـن در ست[۱۶]»

د پښتنو ستر عرفاني او سياسي لاربنود - بايزيد روښان اورمړ ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر « صراط التوحيد » کي، کامل پير يا کامل انسان، هغه څوک ګڼي، چي د سير او سلوک اته مقامونه ( شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت ) يي بشپړ کړي؛ د ربوبيت اسرار يې کشف کړي؛ او د تخلقوا باخلاق الله تر ټولو لوړي عرفاني درجي ته رسېدلئ يي . تر دغو سترو صفتو او ځانګړتياوو وروسته نو پير روښان، پرخلګو باندي د کامل پير بلنه او پيروي فرض بولي . پير روښان د کامل پير پيروي، د خدای د رسول پيروي؛ د الله د رسول پيروي، د لوی ښتن پيروي؛ او د ښتن تعالی اطاعت و انسانانو ته تر ټولو سمه او معقوله لار ګڼي . ميا روښان په « صراط التوحيد » کي د کامل پير د همدې لوړ مقام ته په کتو سره، پاچهانو او اميرانو ته لارښوونه کړې ده، چي شرعي علوم بايد له استاده؛ او باطني علوم له کامل پير څخه زده کړي [۱۷] .

زموږ واصل او کامل عارف، علي محمد مخلص، د روښاني سير او سلوک له اُصُولو سره سم، د اتو عرفاني مقامو( شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت) تېرول، د کامل پير لوړ مقام ته د رسېدو يوازنی او ضروري لار بولي :

د کامل نښان دغه دئ په عالَـم کښي
چي اته مقـــامه خپل کاندي له نيـازه

مخلص، په خپل پښتو عرفاني ديوان کي د کامل پير د صفتو په تړاو داسي وايي :

د کـامل څـلور صفــته
دی خوش ګوی، نېکخوی کثيـر دئ

دی عارف هم نېک افعال شـــه
دا نښان د کــامل میــر دئ

په دې ډول ګورو، چې زموږ د محقق عارف شاعر (علي محمد مخلص) او وتلي عرفاني شېخ ( عزیزالدین نسفي) تر منځ د کامل پېژندنې په تیوري کې هیڅ توپیر او اختلاف نه لیدل کیږي .

علي محمد مخلص، په خپل ارزښتناک عرفاني او تاریخي اثر « حالنامه » کې د خپل کامل پیر - بایزید روښان اورمړ ' انصاري' د هغو عرفاني او روحاني کوښښو هر اړخیزه یادونه کړې ده، چې د کامل پیر په لټه کې يې کړي وه . دی لیکي، چې پیر روښان د ژوندانه په یوه پړاو کې له یوه روحاني شخصیت څخه د رسول الله ( ص ) دا حدیث شریف واوریدئ : « لا دین لمن لا شیخ له » یاني هر څوک، چې پیر نه لري، هغه دین نه لري . وروسته یې د عرفاني شېخانو دا وینا واوریدله : « الشیخ هو الذی یدله علی المجاهدة و یرشده الی الله و الا انقطاع عن ماسوی الله » یاني شېخ یا پیر هغه څوک دئ، چې مرید ته د ریاضت او مجاهدت لاربښوونه وکي؛ د خدای لوري تې بوزي او له ماسوای الله څخه يې را وګرځيي۱۸ . د پیر روښان سترګي وروسته د حضرت پېغمبر ( ص) پر دې حدیث ولګېدې : « من طلب غیرالله فهو جاهل و من مات الجاهل فقد مات الفاسق » یاني هرڅوک، چې بې خدایه بل څه غواړي، هغه ناپوه دئ؛ او هرڅوک چې ناپوه مړ سي، لکه فاسق او ګونا ګار چې ومري . ورپسې يې د ناقص پیر په باب د نبي کریم ( ص) دا حدیث تر سترګو سو : « من لا شیخ کاملا له فا الشیطان شیخه » یاني د هر چا چې پیر بشپړ نه يي، شیطان يې پیر يي . په همدې تر ځ کې يې په قرآن مجید کي د نصر ( یونس) د سورت نه اتیایم آیت ( ۱۰: ۸۹) وموند، چې وایي : « . . . و لا تتبعان سبیل الذین لایعملون » یاني د هغه چا پر پله پل مه ږدئ، چې سمه لار نه یي ور مالومه . دکامل پیر د صفتو په اړه يې د خپلي ژوري پلټني په بهیر کي دغه راز د سپېڅلي قرآن دا مبارک آیت پیدا کړ : « اولئک الدین هدی الله فبهد هم اقتده . . . » یاني د هغو کسانو پر پله پل کښېږدئ، چې حق تعالی لاربښوونه ورته کړې ده( د انعام د سورت د نیوییم آیت مخکنی برخه) . د دې تر څنګ يې د قرآن عظیم الشان د طاها د سورې په اووه څلوېښتم آیت کې دی ارزښتناکي خبري ته هم پام واوښت : « . . . و السلام علی من اتبع الهدی » یاني پر هر هغه چا سلامتي ده، چې د سمې لارې اطاعت او پیروي وکي . دغه راز، پیر روښان د کامل پیر د پېژندلو په هڅه او کوښښ کې پر دې قدسي حدیث سترګي ولګېدې : « قال الله تعالی الشیخ هوالذی من یعلم من علم النبی و عمل به و علمه للمتعلم » یاني شېخ یا پیر هغه څوک دئ، چې د نبي په پوهه خبر يي؛ هغه يې عملي کړې يي؛ او خپلو زده کوونکو یا مُریدانو تې ور ښوولي يي . په همدې لړ کې د حضرت محمد ( ص) له یوه حدیث څخه دا حُکم تر لاسه کړ: « الشیخ فی قومه کالنبی فی امته » یاني پیر یا شېخ په خپل قام کې لکه پېغمبر په خپل اُمت کې ۱۹ . په همدې لړ کې يې ورپسې دې قدسي حدیث « من اعرض عن الشیخ الکامل فکانما اعرض عن النبی و من اعرض من النبی فهو مردود » ته پام واوښتئ، چې د هغه پر بنسټ، د کامل پیر له لارې ګرځېدونکی، د نبي له لارې اوښتونکی؛ او د نبي له لارې اوښتونکی، مردود ګڼل سوئ دئ ۲۰ . تر دغو قرآني آیتو او نبوي احادیثو وروسته يې د رسول الله ( ص) په یوه بل حدیث کې د کامل پیر د لوړ عرفاني او روحاني مقام په باب دا نظر هم تر لاسه کړ : « الناس غرق الماء حیوة لا یقدر شربه احد الا بید المرشد الکامل » یاني خلګ په اوبو کې ډوب دي، خو هیڅوک بې کامله د دې اوبو د څښلو وس نه لري ۲۱ . دې قرآني آیتو او نبوي احادیثو پیر روښان ته د کامل انسان یا کامل پیر عرفاني مفهوم، په ریښتیني او دقیقه توګه څرګند کړ؛ ځکه يې نو کامل په لټون او موندنه کې تر هر څه مخکې د هغه مهال د لوی فرهنګي او تجارتي ښار ، کندهار، وخوا ته مخه کړه . په کندهار، پښتونخوا او

هندوستان کي تر اوړدو پلټنو او تلاښو وروسته دې نتيجې ورسېدئ، چې د ويسيه طريقې په پيروی بې پير او مرشده د توحيد پېژندني او عرفاني بشپړتيا يون پيل کې .

علي محمد مخلص، د کامل او ناقص پير د صفتوپه باره کې د خپل عرفاني پير د ځرګندونو په اړه په يوه بل ځای کې ليکي : « فکور عرفاني پېشوا، بايزيد روښان، وليدل چې د د رواغجنو او ناقصو پيرانو ډلې د پيری او مرشدی په نامه له خلګو مال او شتمنی تر لاسه کيې؛ مګر د حق تعالی په معرفت او د توحيد په پوهې هيڅ خبر نه دي . پير روښان ،همدغه راز د زياترو درويشانو او عالمانو په ډلو کې هم هيڅ ديني قواعد و نه ليده . هغوی هم زهد، تقوا او پوهه د مال او شتو په بدل کې پلورله . پر دوی سربېره ، پير روښان داسي درويشان هم وليده، چي حلال کار او دونيا يې پرېښې وه ؛ او د خلګو ناروا خوړو او مال ته يې سترګې نيولي وې[۲۲] . »

د مفکر عرفاني لارښود، بايزيد روښان، په شخصيت کې د کامل پير صفتو او ځانګړتياوو په ريښتيني بڼه تحقق موندلئ ؤ . له دې جهته ناڅاپې نه وه، چې د کابل د مغولي واکمن، حکيم ميرزا، په دربار کې لوی قاضي، قاضي خان، له پير روښان سره تر اوږدي علمي او عرفاني مناظرې وروسته، هغه ته په دې ټکو خطاب کړئ ؤ : « بارک الله ! ای شيخه ! کامل او مکمل پيره ! هر څوک چې ستا پر لاس توبه وکي؛ او ستا متابعت ته ملا وتړي، انشاء الله و تعالی د خدای له معرفت او د توحيد له پوهې به برخه واخلي[۲۳] . » مخلص، په « حالنامه » کې د کامل پير د موندني په هيله د خپل عرفاني پېشوا، بايزيد روښان، د نورو هڅو په باب هم ډېري ارزښتناکي خبري کړي دي، چي د ځای د کمښت له اسيته يې دلته له يادوني تېرېږو .

مخلص، په خپله عرفاني شاعری کې د کامل پير لوړ مقام، د هغه صفتونه او خصوصيات، په ډېري استادی او هونرمندی سره بيان کړي دي . هغه، په يوه غزله کې بيناډلو رندانو ته خبرداری ورکيې، چي د کوثر اوبه يوازې دکامل مر شد په ارشاد او لاس نيوي کې موندلای سي :

که طالب د کوثر جوی يې په صورت کښي
په جهان کښي کړه حاصل مرشد رسوخه

***

بې مُرشده به دغه اوبه ونــه څښې!
د هستئ علم يې زده کړه له شيوخــه

***

نن ســـبب د معرفت پيرکامل دئ
بې مرشده د عرفـان پياله ده ستوخــه

مخلص، په « حالنامه » کې د دوو ډولو زامنو نظريه وړاندې کيې، چې يو يې صلبي( حقيقي يا طبيعي) او بل ډول يې لطفي ( مريد) دئ . مخلص، د همدې عرفاني تيوری په څېر، زېږېدنه هم دوه ډوله بولي، چي يوه يې صوري او بله يې مانوي ( معنوي) زوکړه ده . هغه، له مور او پلار څخه زېږېدنه د صوري زوکړي؛ او له پير څخه زېږېدنه د مانوي زوکړي په نامه ياديې . مخلص، د « لم يدخلو فی الملکوت السموات من لم يد خل مرتين » په استناد مانوي زوکړه د ملکوت په اسمان کې د بيا زېږېدو شرط ګڼي . په يوه پارسي مثنوي کې د انسان د دوهمي زوکړي مسأله داسي بيانيې :

« اګر خواهي تولد بــار ثانــی
بيا بشنو ز من ای يار ثـــانی

به پیش پیر خود را مرده ســـازی
دیگر بگذار لهو ولعب و بـــازی
ز خواهشها خود را خود کـنـی پاک
امین داری امانت دار چــون خاک
هر آن تلقین که پیر در تو بنهــاد
امانت دان مده آن را تــو برباد
حیات و علم و بینایی ازو جـــو
زبان کن لال گویایی ازو جو۲۴. . . »

بل ځای کامل شېخ د حق تعالی د معرفت او پېتو علومو د زده کړي لاربنود بولي :

په ظاهر علم که ځــان گورې راسخــه!
نن حاصل کړه پټ علوم له مشایخــه
***
پټ علوم د حقیقت له پیــره زده کړه!
د باطــن عِلـم د هر عِلم کُنجي ده

مخلص، د کامل لاربنووني ته د عرفاني سیر او سلوک په ستونزمنو او تاریکو لارو کي د سالکانو د ځراغ، بلکي لمر په سترگه گوري :

چي کامل هادي رهبر لرې د وړاندي
په تیاره کي چراغ، نمر لرې د وړاندي
د توحید باریکه لار به در ښکاره شـــي
که د زړه فکر، نـــظر لرې د وړاندي
***
دکامل کلام چراغ لـــره د وړاندي
په دا نور به در ځرگند شي وران لـه سازه

کامل پیر، د مخلص په عرفاني ډېتورینوکي دونه لوړ ځای لري، چي د معرفت او عرفان ترلاسه کول بې کامله گرسره محال او ناشونی گڼي :

بې کامله معرفت موندل محال دي
له مرشدپه دا ژوند ژر شه آحـــاظه
نن د مـــعرفت بهره له پیره یو سه!
تل به نه وي په دا وران جهان لظاظه

دمخلص له نظره، یوازي هغه کسان د کاملانو له نوره بې برخي دي، چي د شوپرکانو په څېر د لمر له وړانگو تېښتي؛ او په تیارو او تورتمو کي پناه لټیي . د کاملانو د معرفت همدې لوړ مقام ته د پاملرني په وجه دئ، چي مخلص، سُلطان محمود غزنوي ( ۳۶۱هـ ق/ ۹۹۹ع - ۴۲۱ هـ ق/ ۱۰۳۰ع) غوندي پیاوړی او غښتلی پاچا سره له گردو لښکر و اوحشم و خدمه د ایاز ( په ۴۴۹ هـ ق کي مړ) شاگرد بولي :

کاملان لکه آفتاب بینــا پر گرزي

شوپرک په رڼا پرېوزي له پــروازه

د محمود سره عالم ډېر بې حساب و

معرفت محمود حاصل که له ایازه

د سالکانو په زړو کي د غیر اوګومان په نستولو؛ او د حق په اثبات کي د کامل پیر د ذکر او ارشاد اغیزمنتا ته د مخلص په یوه غزله کي داسي ګوته نیول سوې ده :

که په ذکر د کامل مرشد باور کړې!

په نفي لا به نفي د ګمان غر کړې!

الا الله به کړې ثابت پر خاطر باندې

غیر الله به له خاطره کُل بدر کړې!

د « کامل »، « مکمل کامل »، « اکمل » یا « ازاد کامل » د عرفاني مقامو په پېژندګلوی کي د مخلص عرفاني نظریات ، په تول ډېر درانه او په ښکلاډېر رنګین دي . مخلص، د کامل پیر لوړو او بې ساري انساني خویو، پراخي او ژوري عرفاني پوهې او لاربنووني ته د ډېر قدر او ارزښت په سترګه ګوري . د خپل کامل پیر، بایزید روښان، په سوځونکي مینه کي د هغه دابیت د ډېرو واقعیتو ښکارندوی دئ :

د مخلص قبله، کعبه د روښا ن مــخ دئ

د مُسلِم مقصود کعبه، د کافر ګنګ دئ

مخلص، د خپل عرفاني لارښود، پیر روښان، په مینه کي هسې ډوب دئ، چي د هغه دکورنۍ ټولو لویانو او کوچنیانو ته بې غله و غشه درناوی او اخلاص خپله وجیبه ګڼي :

« مخلصا! ګرتو مرید صـادق!

بر جمال حال روښان عاشـقی

خاندانش دوست داری تو ز جـــان

برکه و مه اش مشو تو ظـان ۲۵»

لکه څنګه چي مخلص هم په خپل پښتو او پارسي کلام کي راوړي دي، په عرفاني سیر او سلوک کي دا خبره حتمي او ضروري نه ده، چي د پیر او مرید تر منځ اړېکی او لاس نیوی باید هرومرو مستقیمه یا بې واسطې بڼه ولري؛ ځکه پیر روښان د علي محمد مخلص تر زوکېدو لړ و ډېر ځلوېښت کاله مخکي له دې دونیا څخه سترګي پټي کړې وې؛ مګر سره له هغه هم د پیر روښان عرفاني طریقت او شخصیت ته د خپل ژوند او بشپړتیا د مشال په سترګه ګوري .

له کامل پیر سره سوځونکي مینه او اخلاص تر علي محمد مخلص مخکي د ډېرو مخکښو عارفانو په اثارو او بیانو کي هم پراخ انعکاس کړئ دئ، دلته بې ځایه نه ده، چي دخپل کامل پیر( شمس تبریزي) په لېونۍ مینه کي د اسلامي تصوف او عرفان د وتلي او منلي لارښود، مولانا جلال الدین بلخي رومي، دا ښکلی بیان د مثال په توګه یاد کړو :

« پیـــر من ومراد من و دوای مـن

فاش بگفتم این سُخن، شمس من و خدای من

کعبهٔ من، کُنشت من، دوزخ من، بهشت من

مؤنس روزګار من، شمس من و خدای مـــن۲۶ »

**دنورو مالوماتو دپاره وگورئ :** ابدال، اوتاد، ابرار، سرهنگان يا اخيار، قطب، قطب الاقطاب، غوث، غوث الاعظم، غوث زمان يا صاحب الزمان، نقيبان، کامل او ازاد، معجزه، کرامت او استدراج ، نبي او ولي، ولي او ولايت .

**لمنليکونه**

١ عميد ٢: ١٥٩٠ ، ١: ٥٩٦ .

٢ رزمجو ٢٢٨.

٣ ژباړه : کله چي ستا رب، ملايکو ته وويل : زه به پر مځکه، خليفه پيدا کړم .

۴ ژباړه : او آدم ( ع ) ته يې د ګردو شيانو نومونه، ماهيت اوځانګړتيا وښووده .

۵ ژباړه : کله چي موږ پريشتو( ملايکو) ته وويل : آدم ( ع ) ته سجده وکړئ، دوی ټولو سجده ورته وکړه؛ خو يوازي ابليس سجده ونه کړه .

۶ ژباړه : په ريښتيا سره موږ د آدم ( ع) بچيانو ته ډېر وياړ او عزت ورکړئ دئ، په وچه او اوبوکي مو د سفر وسايل ور کړي دي . . .

٧ رزمجو ٨ .

٨ عطار نيشابوری ۵۵ .

٩ رزمجو ٢٣٢ .

١٠ رزمجو ٢٣٢ .

١١ نيرومند محقق ١٧٢ .

١٢ بلخی، دورهٔ کامل مثنوی معنوی٢٧٣.

١٣ نسفی، انسان الکامل۴ - ۵ .

١۴ نسفی، انسان الکامل ۵ .

١۵ نسفی، انسان الکامل ٧ .

١۶ حافظ شيرازی ۵۶ ، ۶٢ .

١٧ روښان، صراط التوحيد ٣٧ ؛ علي محمد مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۴٧٩ .

١٨ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ٣٣- ٣۴ .

١٩ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ٣٣- ٣۶ .

٢٠ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ١۴۴.

٢١ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۴۴ .

٢٢ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ١٠٩- ١١٠ .

٢٣ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ٣۴٠ .

٢۴ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۴٧٩ .

٢۵ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۶٠٠ .

٢۶ بلخی، کليات شمس ( ديوان کبير) ١٨٠ .

پاته لري